## د لوی ښښونکي او مهربانه خدای په نامه

# بين الافغاني مذاکراتو په اړه د ښځو ولايتي شبکو ليدلوری او وړانديزونه

25 زمری 1399

### د ښځو ولايتی شبکو ته یوه لنډه کتنه

**د ښځو ولايتي شبکې (PWNs)** چې د افغانستان د عدليې له وزارت سره راجسټر شوې او په هر ولايت کې د ژوندانه له مختلفو ډګرونو څخه ښځې يې يوځای کړې ترڅو پخپل منځ کې باور او اعتماد رامنځته کولو، بيلابيلو فعالانو سره د اړيکې جوړولو، په ټولنه کې شخړې هوارولو، سوله راوستلو او ښه خدمات وړاندی کولو په لور کار وکړي. PWNs په ۱۵ ولايتونو **(کابل، پروان، باميان، دايکندي، هلمند، کندهار، ارزګان، پکتيا، ننګرهار، لغمان، کندز، بدخشان، بلخ، فارياب** او **هرات)** کې له 30 څخه تر 40 پورې غړي لري. دا شبکې په 2012 کال کې په اوو ولايتونو کې د سولې او ډيموکراسۍ لپاره د يوشانوالي بنسټ (Equality for Peace and Democracy - EPD) له خوا رامنځته شوې او وروسته يې د کورډايډ (Cordaid) په تخنيکي مرستې او ملاتړ سره پنځلس ولايتونه تر خپل پوښښ لاندې راوستل. د دې شبکو غړو اوږد مهاله روزنېز ټرينګونه او د ظرفيت لوړوالي زده کړې ترلاسه کړې چې د دوی د اړتياو پر اساس دي چې د دوی په ټولنه کې اغيزمن منځګړې او د سولې راوستونکې شي. تر دې دمه دوی څه باندې ۱۱۱۸ قضيو کې منځګړتوب، وکالت او هوارې راوستی، چې پکښې د شخړو د هواريدو پيښې، د ښځو پر وړاندې د زورزياتي پيښې، په کم عمر کې د ماشوم ودونې پيښې، د ښځو تعليم يافته کول او ځواکمنول، کاري فرصتونه، د ښځو سياسي مشارکت او په خپلو ټولنو کې د انجونو د زده کړې وده شامليږي. د PWN غړې په منظم ډول د يو بل سره ليدنې کوي ترڅو خپل نظرونه او زده کړې د يو بل سره شريک کړي، او همدارنګه د ښځو رهبرانو، پاليسي جوړونکو او نورو ښځې چې د شخړې، سولې او حکومتدارۍ په اړه خپل ليدلوری وړاندې کوي، سره خبرې وکړي.

د سولې د مشورتي جرګې پای ته رسولو سره، چې په دې جرګې کې د 400 طالب بنديانو خوشې کېدل تاييد شوه، د بين الافغاني مذاکراتو د پيليدو لپاره ټول اړين پړاوونه ترسره شوه. اوس د بين الافغاني مذاکراتو د ځنډولو لپاره د سولې د مذاکراتو دواړه پلاوی نور هېڅ عذر نه لري. موږ، د افغانستان په ۱۵ ولايتونو کې د ښځو د ولايتي شبکو غړې، پر افغان حکومت او طالبانو غږ کوو چې د لويې جرګې استازو غوښتنو ته درناوی وکړي او ژر تر ژره دې بين الافغاني مذاکرات پيل کړي.

افغانستان د تېرو څلورو لسيزو راهيسې په جګړو کې ښکېل دی او موږ خپل ميليونونه وګړي په دې تپل شوې جګړه کې د لاسه ورکړي دي. د دې جګړې دوام به موږ ته نور هېڅ په لاس را نه کړي پرته له دې چې زموږ هېواد تباه کړي، د بې ګناه افغانانو وينه توی کړي او زموږ د خلکو تر منځ نفرتونه او تاوتريخوالی رامنځته کړي. موږ په دې باور لرو چې د يو بل سره په صادقانه ډول د خبرو اترو له لارې، موږ کولای شو خپلې ستونزې حل کړو.

نن ټوله نړۍ افغانان دې ته هڅوي چې په سوله ايزه توګه جګړې ختمه کړي او د دې هېواد د اوسيدونکو په توګه موږ ته په کار ده چې له دې فرصت څخه په خورا دقت او مسوولانه توګه ګټه پورته کړو ترڅو نور د افغانانو وينې توېولو ته د پای ټکی کېږدو، خپلمنځني تنوع ومنو او په يوه هوسا چاپيريال کې خپل ژوند تير کړو. د دې بې وزله ملت د مشرانو په توګه، موږ د خپلو ځوانانو او ماشومانو په وړاندې چې د افغانستان نن او راتلونکې جوړوي، مسووليت لرو. زموږ زياتره ځوانان او ماشومان د ناامنيو له کبله له بې شمېره ننګوونو سره مخ دي. پداسې حال کې چې په سيمه او نړۍ کې ډيری ځوانان او ماشومان د خدمتونو، زده کړې او تفريح ته له لاسرسي لرلو څخه خوند اخلي خو زموږ ځوانان او ماشومان د تاوتريخوالي بار په خپلو اوږو وړي. زموږ ځوانان اکثراً امنيت ته د ګواښ په سترګه کتل کېږي، ځکه چې د وسله والو ډلو له خوا دوی ډېر په اسانۍ سره جلب کېدای شي. موږ په دې باور يو چې په ټينګ ملاتړ او ځواکمنتيا سره افغان ښځينه او نارينه ماشو کولای شي د بدلون عاملين او رهبران واوسي. د نړۍ د بل هر هېواد د ځوانانو په څير، افغان ځوانان هم د کارونو په ښه ډول ترسره کولو لپاره ليوالتيا، نوښت او انګيزه لري. کله چې حکومت او ټولنه ونشي کړای چې د دوی انرژي په مثبتو کړنو کې سره را ټوله کړي، نو هغوی بيا بلې خوا ته مخ اړوي او هلته ده چې ترهګريزې ډلې له دی فرصت څخه ګټه اخلي او هغوی له ځان سره ګماری. اوس د دې وخت رارسيدلی دی چې مشران د خپلو خلکو پر اړتياوو، اندېښنو او ورتيا باندې فکر وکړي او د هيواد د خير لپاره خپلې شخصې ګټې او توپيرونه يوې خوا ته پرېږدي.

د افغانستان د جګړې د کورنۍ، سيمه ايز او نړيوالو اړخونو په پوهيدلو

د افغانستان د جګړې د کورنۍ، سیمه ایز او نړیوالو اړخونو په پوهیدلو سره؛ موږ پر ټولو ښکېلو غاړو، په شمول د افغان حکومت، طالبانو، افغان ښځینه او نارینه رهبرانو، مذهبي رهبرانو، قومي مشرانو، ګاونډیو هېوادونو او نړیوالې ټولنې، باندې غږ کوو چې د بین الافغانی خبرو اترو پرمهال لاندې وړاندیزونو ته پام وکړي ترڅو په پایله کې د سولې یوه تلپاتې تړون ته ورسیږو.

## اوربند

د سولې په تړون کې، سیاسي ځواک او سرچېنې د سیاسي اشخاصو ترمنځ وېشل کېږي، نه د عامو خلکو ترمنځ چې په جګړه کې یې پرې پاتې شوي دي. اوربند موږ ټولو ته ګټه رسوي.

موږ پر دواړو خواو غږ کو چې د لومړي بین الافغاني مذاکراتو په جریان کې دې پر بشړپاله اوربند هوکړه وکړي. دا به د افغان ولس په حق کې لویه جفا وي چې د دواړو لورو جګپوړې سیاسي اشخاص په بهرني هیواد کې په سوله ایزه توګه مذاکرات پرمخ وړي، په داسې حال کې چې په افغانستان کې د بې ګناه خلکو وژلو ته دوام ورکوي. موږ تمه لرو چې تاسو د جګړې څخه د خلکو نا امیدۍ او سولې لپاره لېوالتیا درک کړئ. د ټولو ناامیدیو سره سره چې موږ یې له طالبانو، حکومت او ټولو سیاستمدارانو څخه لرو، موږ امید لرو چې تاسو به د وینو تویدلو څخه د مخنیوي لپاره یوې سیاسی هوکړې ته ورسیږئ. تاریخ ښودلې ده چې د سولې په تړون کې، سیاسي ځواک او سرچېنې د سیاسي اشخاصو ترمنځ وېشل کېږي، نه د عامو خلکو ترمنځ چې په جګړه کې یې پرې پاتې شوي دي، اوربند موږ ټولو ته ګټه رسوي. له همدې کبله، د جګړې ټولې غاړې باید د سولې لپاره خپل ملاتړ او سیاسي هوډ د خپلو دښمنیو او تهاجمي عملیاتو په درولو سره وښيي تر څو یوه سیاسي جوړجاړې ته سره ورسیږي. بشرپاله اوربند باید د ټولو خواوؤ لخوا مراعات کړل شي او که چیرته کومه غاړه د همدې اوربند په درشل کې سرغړونه کوي نو باید مسوولە وګڼل شي. له همدې کبله موږ غواړو چې:

1. **حکومت او طالبان** دې د بین الافغاني مذاکراتو په پیل کې په اوربند باندې هوکړه وکړي او د په ریښتیني ډول د دې اوربند له پلي کېدو څخه ډاډ ورکړي.
2. **د مدني ټولنو بنسټونه** دې د اوربند په سمه توګه پلي کیدو څخه څارنې لپاره یو خپلواک میکانیزم رامنځته کړي او هره هغه غاړه چې د اوربند څخه سرغړونه کوي هغه دې په ګوته شي.
3. **نړیواله ټولنه** مسؤلیت لرى چې د اوربند د تړون وڅاري او هر سرغړونکی دې د اوربند د هوکړې د نقض کولو په خاطر مسوول ونیسي.

## معنی لرونکی استازیتوب

موږ، د افغانستان په ۱۵ ولایتونو کې د ښځو ولایتي شبکو استازې، به یوازې له هغو استازو څخه ملاتړ وکړو چې په کابل او ولایتونو کې د ښځو د ډلو سره د منظم ګډون له لارې د روڼتیا او حساب ورکوونې اصولو ته درناوی ولري.

زموږ لپاره د سولې په پروسه کې د ښځو استازیتوب یوازې هغه وخت معنی لري کله چې د سولې د بهیر په هره کچه خبرو اترو کې لږترلږه ۳۰٪ ګډونوال یې هغه میرمنې وي چې د ښځو د حقونو د ترویج، ملاتړ او دفاع په برخه کې پخه تجربه او پوهه ولري. په داسې حال کې چې موږ په ډېر لنډ وخت کې د سولې مشورتي جرګې د کوربه توب لپاره د حکومت د هڅو ستاینه کوو خو په ۳۴۰۰ استازو کې یوازې د ۷۳۰ میرمنو ګډون (۲۱٪) د منلو وړ نه دی. موږ د هېواد په کچه له ټولو هغو ښځینه مشرانو له هڅو څخه ستاینه کوو چې په بیلا بیلو غونډو کې یې د ښځو غږ پورته کړی په شمول د وروستۍ مشورتي لویې جرګې او لومړنۍ بین الافغاني خبرو اترو. موږ تاسو ټوله هڅوو چې خپلو سپیڅلو هڅو ته دوام ورکړې ترڅو د ښځو بنسټیزو حقونو د ودې لپاره په بیلا بیلو ملي او بین المللی کچو ناستو کې زموږ استازیتوب وکړي، په بیلا بیلو برخو کې د ښځو د استازو سره په اړیکه کې واوسئ او تل په مرکز او ولایتونو کې د ښځو سره مشورتي ناستې ولرى ترڅو د هغوی د اندیښنې او وړاندیزونه په مختلفو مهمو ناستو کې وړاندې کړئ. موږ، د افغانستان په ۱۵ ولایتونو کې د ښځو ولایتي شبکو استازې، به یوازې له هغو استازو څخه ملاتړ وکړو چې په کابل او ولایتونو کې د ښځو د ډلو سره د منظم ګډون له لارې د روڼتیا او حساب ورکوونې اصولو ته درناوی ولري. له همدې امله موږ غږ کوو:

1. **د ښځو رهبرانو** څخه مو غوښتنه ده چې په ټول هېواد کې د ښځو له بیلا بیلو ډلو او د جګړې له قربانیانو سره خپلو سلامشورو او هڅو ته دوام ورکړي، زموږ لیډلوری دې د مذاکراتو پر میز وړاندې کړي او زموږ د هوکړې او موافقې پرته دې زموږ حقونه په خطر کې نه اچوي.
2. **حکومت** باید د ښځو د حقونو او ګډون په برخه کې خپله ژمنتیا او جدیت په ډاګه کړي ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې د سولې د ټولو ناستو او بحثونو کې لږ تر لږه ۳۰٪ برخه والې هغه ښځې واوسي، هغه ښځې چې د ښځو حقونو ته ژمنې دي، د ښځو له حقونو څخه د دفاع په برخه کې کاری تجربه ولرى، په افغانستان کې ژوند کوي او په فعاله توګه د دوی له حوزو سره کار کوي.

3. **طالبان** هم باید په خپل مذاکراتي پلاوی کې د افغانستان څخه میرمني شاملې کړي او په خبرو اترو کې د دوی ګډون تضمین کړي ترڅو دوی هم د خلکو اندیښنې او وړاندیزونه په مذاکراتو او ورته ناستو کې وړاندې کړي.
4. **نړیواله ټولنه** هم باید د ۳۰٪ اصل ته درناوی وکړي او د ټولو نړیواله/ملی کچو د سولې اړوند ناستو له تنظیم کوونکو، دولت او همدارنګه طالبانو څخه غوښتنه وکړی، څرنګه چې پورته یادونه وشوه، چې د وړ او پوهه ښځو ګډون او د ۳۰٪ اصل دی د سولې اړوند ټولو ناستو کی په نظر کی ونیسی. پدی کی هغه ښځی هم شاملی شی چی په انګلیسی او نورو خارجی ژبو باندی روانی خبری نشی کولای.

## ثبات او یووالي

د نظام پلوه ډلې باید د سولې خبرو اترو په درشل کې پخپلو پیغامونو او بیانیو کې متحده او ثابته وي او یو بل ته زیان ونه رسوي او بې اعتباره یې نه کړي.

موږ همدا ډول له خپلو نړیوالو ملګرو څخه هم د یووالي او پیوستون تمه لرو. موږ تمه لرو چې دوی به د ښځو، اقلیتونو او قربانیانو حقونو باندی هغومره ټینګ پاتې شي لکه څنګه چې دوی په 2002 کې وو.

په افغانستان کې د سولې بهیر پدې پړاو کې د سیاسي ګوندونو، مدني ټولنې، میرمنو ډلو، ځوانانو ډلو، مذهبي رهبرانو او د ټولنې مشرانو په ګډون د بېلابېلو افغان اصلي غاړو ترمنځ یووالی خورا مهم دی. ټولې اصلي غاړې باید خپل منځنی توپیرونه یوې خوا ته کړی او د سولې لپاره او د هېواد ملی ګټو لپاره په ګډه سره کار وکړي. د نظام پلوه ټولې غاړې باید خپل منځنی توپیرونه لرې او په هیواد کی د تلپاتې سولې او ملی ګټو لپاره په ګډه کار وکړي. د نظام پلوه ډلې باید د سولې خبرو اترو په درشل کې پخپلو پیغامونو او بیانیو کې متحده او ثابته وي او یو بل ته زیان ونه رسوي او بې اعتباره یې نه کړي. موږ همدا ډول له خپلو نړیوالو ملګرو څخه هم د یووالي او پیوستون تمه لرو. موږ تمه لرو چې دوی به د ښځو، اقلیتونو او قربانیانو حقونو باندی هغومره ټینګ پاتې شي لکه څنګه چې دوی په 2002 کې وو. زموږ یووالی او پیوستون به د نوي افغانستان په لیدو کې له طالبانو سره مرسته وکړي چېرې چې بېلابېلې ډلې د ملي اهدافو لپاره سره یوځای شوي دي. له همدې امله موږ غږ کوو:

1. **د ښځو رهبراني** دې د یو بل ملاتړ وکړي، له هغو نارینه وو سره دې اتحاد جوړ کړي چې د ښځو، اقلیتونو او قربانیانو پر حقونو باور لري او ملاتړ یې کوي او د خپلو پیغامونو او وړاندیزونو په ورکولو کې دې متحد، ټینګ او ثابت اوسي. موږ تاسو څخه غوښتنه کوو چې هیڅ چاته اجازه ورنه کړئ چې د سولې په برنامو کې د ښځو سره ناوړه چلند یا یې سپکاوی وکړي.
2. **د ملي پخلاینې عالي شورا** دی په بیلابیلو سکتورونو کې د مختلفو ډلو سره پر همکارۍ لرلو تمرکز وکړي په ځانګړې ډول د جګړې له قربانیانو او ټولو نارینه او ښځینه سیاستوالو سره، ترڅو د سولې پروسې لپاره د دوی یووالی او ملاتړ تضمین کړي، د لاسته راوړنو ساتنه وکړي او د سولې بهیر دې نه خرابوي.
3. **نړیواله ټولنه**، په ځانګړې توګه د امریکا متحده ایالات دې د طالبانو، افغان حکومت یا مخالفو ډلو سره د لیدو پر مهال د بشري حقونو او ارزښتونو او د ښځو د حقونو، د اقلیتونو او قربانیانو د حقونو ساتنې لپاره دې خپل ملاتړ ته دوام ورکړي.

## مذاکرات

په داسې حال کې چې سیاسي اشخاص له سیاسي اړخه یو بل سره ننګوي، دوی یا د دوی د کورنۍ غړي بې هېڅکله د جګړې ډګر ته نه ځي ترڅو د جګړې او تباهۍ د پایلو شاهدان واوسي او درک یې کړي. دا په سیمه ایزه کچه غریب خلک دي چې د تاوتریخوالي او بریدونو سره مخ دي، ژوند یې د خطر سره مخ دی او کورنۍ یې له تعلیم او پرمختګ څخه بې برخې پاتې دي. سربیره پردې، د ښې حکومتولۍ او د قانون حاکمیت نشتوالي د سیمې پر خلکو باندې تر نورو ډلو پورې ډېره اغیزه درلوده. موږ په دې باور لرو چې د سولې اړونده ملي او بین المللي غونډو او مذاکراتو کې رهبران د مهمو بشري ستونزو او مسئلو د حل لارو موندلو پر ځای د ځواک تقسیمولو پر موضوعاتو ډېر تمرکز کوي. موږ اړتیا لرو چې له عامه وګړو سره د باور جوړونې او د شکایتونو، نظرونو او وړاندیزونو شریکولو په خاطر ناستې ولرو ترڅو حکومتولۍ، د قانون حاکمیت او عامه حساب ورکونې ته وده ورکړل شي. د پخوانیو جنګیالیو او د هغوی د کورنیو اغېزمن ادغام او د ګاونډیو هېوادونو څخه د مهاجرو په باعزته توګه بیرته راستنیدنه د دوامداره سولې لپاره خورا مهم دی. له همدې امله موږ پر لاندې خواوو غږ کوو:

1. **د ملي پخلاینې عالي شورا** دې د خلکو باور جوړونې لپاره د خلکو سره کار وکړي په ځانګړې توګه د اعتماد جوړونې لپاره په ولایتونو کې د قربانیانو سره ووینې، د هغوی شکایتونو او لیدلورو اوریدو ته دې ادامه ورکړي او د دوی وړاندیزونو ته دې پاملرنه وکړي ترڅو د سولې پروسې لپاره د دوی ملاتړ یقیني کړي.
2. **ټولې عامه ادارې** باید په بیلابیلو سکتورونو کې له بېلابېلو ډلو سره د دوی د برابرو همکارانو په توګه کار وکړي او د دې لپاره چې څنګه بېلابېلې خواوې وکولای شي په ګډه د سولې د بهیر څخه ملاتړ وکړي، د دوی مشورې واوریدل شي او ملاتړ یې ترلاسه شي.

3. **د مدني ټولنې بنسټونه** دې د ټولنې غړو، طالبانو او حکومتي استازو ترمنځ د نارینه او ښځینه وو لپاره د خبرو اترو فرصت تنظیم کړي ترڅو د شخړو په لاملونو، په حکومتولۍ او قانون حاکمیت کې د سیمه ایزو ننګوونو او وړاندیزونو په اړه بحث وکړي او راپورونه یې له حکومت، نارینه او ښځینه سیاست پوهانو، رسنیو، طالبانو او بین المللي ټولنې سره شریک شي ترڅو د راپور موندنو ته بیا کتنه وکړي او ستونزو ته د حل لارې پیدا کړي.

## بیا یوځای کېدنه (مجدد ادغام)

> مونږ پدې باور لرو چې د خبرو اترو لپاره د بېلابېلو آدرسونو موندلو سربېره، مونږ باید د طالب جنګیالیو لپاره د کار فرصتونه رامنځته کړو ترڅو دوی وکولی شي خپلو کورنیو ته عاید ترلاسه کړي.

د دوامداري سولې لپاره په ټولنه کې د طالبانو سره پخلاینه او یوځای کېدل لازمي دي. د 2002 او 2010 کلونو د بې وسلې کولو پروګرام او په ټولنه کې د طالبانو بیا یوځای کولو پروګرامونه زمونږ لپاره مهم درسونه لري ترڅو په راتلونکې کې وکولای شو چې لا اغیزناکې او رغنده پروګرامونه پلان کړو. مونږ په دې باور لرو چې د خبرو اترو لپاره د بېلابېلو ادرسونو موندلو سربېره، مونږ باید د طالب جنګیالیو لپاره د کار فرصتونه رامنځته کړو ترڅو دوی وکولی شي خپلو کورنیو ته عاید ترلاسه کړي. که نه نو د یو شمیر نورو ملیشو ډلو سره د دوی د یو ځای کېدو جدي خطر شتون لري او تل به د سولې او امنیت لپاره یو ګواښ وي. له همدې امله مونږ غږ کوو:

1. **د دواړو خواوو مذاکراتي پلاوي** باید د بې وسلې کولو او بیا یوځای کولو په اړه مشورتي ناستې تنظیم کړي، پخوانیو پروګرامونو څخه بیاکتنه وکړي، د پروګرامونو د ناکامۍ او لاسته راوړنو پورې اړونده داخلي او بهرني عوامل دې وپېژني او د بې ځایه کېدو، بیرته راستنیدو او بیا مېشته کېدنې پروګرام بانديې کار پیل کړي ترڅو د سولې تړون وروسته سمدلاسه یې پلی کړي.
2. **د مدني ټولنې بنسټونه** دې په هېواد کې څېړنې ترسره کړي او د نورو هېوادونو د بې ځایه کېدنې، بیرته راستنیدو او له سره راستنیدو پروګرامونو څخه بیاکتنه وکړي او د ملي پخلاینې عالي شورا ته دې وړاندیزونه وړاندې کړي.
3. **د طالبانو مشران** دې خپل جنګیالي وهڅوي چې خپلې وسلې دې وسپاري او د پخلاینې او بیا یوځای کېدنې پروګرام کې دې برخه واخلي.

## ځارنه

> مونږ یو خپلواک د ځارنې میکانیزم ته اړتیا لرو ترڅو د سولې پروسې هر ګام وڅېړو او په خپلواک ډول خلکو ته راپور ورکړو؛ او له همدی طریقه د سولې بهیر مخالفین وپېژندل شي.

له یوې خوا د سولې په اړه خبرې کول او له بلې خوا تاوتریخوالي ته دوام ورکول د منلو وړ تاکتیک نه دی. د تاوتریخوالي د کموالي او موقتي اوربندونو په موده کې مونږ ولیدل چې په داسې حال کې چې حکومت او طالبانو دواړو موافقه وکړه، پرله پسې بریدونو دوام درلود. سربېره پردې، دوی په رسمی توګه یو بل تورن کړل. مونږ یو خپلواک د ځارنې میکانیزم ته اړتیا لرو ترڅو د سولې پروسې هر ګام وڅېړو او په خپلواک ډول خلکو ته راپور ورکړو؛ او له همدی طریقه د سولې بهیر مخالفین وپېژندل شي د مثال په توګه، د بندیانو خوشې کول باید په داسې ډول وڅارل شي چې زندانیان بیرته جګړې ته ونه ګرځي او که داسې پېښ شي، نو طالبان باید مسؤل وي. له همدې امله مونږ غږ کوو:

1. **د دواړو خواوو مذاکراتي پلاوی** دې موافقه وکړي او د سولې بهیر څخه د ځارنې لپاره دې خپلواک میکانیزم رامنځته کړي او خپلواکه توګه دې د ځارنې راپورونه خپاره کړي.
2. **د مدني ټولنې بنسټونه** دې د ټولنې په کچه د ځارنې میکانیزمونه رامنځته کړي او د ټولنې په کچه دې د پروسې د هرې مرحلې د پلي کېدو په اړه عامه راپور ورکړي او خپلې موندنې دې په عامه ډول شریک کړي.
3. **نړیواله ټولنه، په ځانګړې توګه د امریکا متحده ایالات** دې د سولې تړون تضمین کړي او له هرې هغې ډلې یا خوا څخه دې حساب غوښتنه وکړي چې د سولې بهیر خرابول غواړي.

په پایله کې، مونږ باور لرو چې مونږ د پخوا په پرتله د سولې تړون ته نږدې شوي یو. مونږ د ټولو خواوو د هڅو او د نړیوالې ټولنې د ملاتړ څخه مننه کوو. مونږ یوځل بیا ټینګار کوو چې هر ډول شخړه د خبرو اترو له لارې حل کېدلای شي او مونږ هیله من یو چې د افغانستان حکومت، طالبانو، امریکا او پاتې نړیواله ټولنه به خپلو ژمنو ته صادقه اوسي او زمونږ د هېواد په بیارغوونې او په سوله ایزه توګه ژوند کولو کې زمونږ سره مرسته وکړي. مونږ هیله لرو چې مونږ به ژر د سولې شاهدان واوسو تر څو زمونږ له مورنۍ خاورې سره انصاف وشي او زمونږ د ورونو او خویندو لپاره یو خوندي او غوره ځای رامنځته شي ترڅو هېڅ افغان د درملنې، کار کولو، یا له تاوتریخوالي، تبعیض او بې عدالتۍ څخه خوندي پاته کېدو لپاره بل هېواد ته سفر ونه کړي.

دا سند په دری ورځو کې د 15 ولایتونو د افغان میرمنو له خوا جوړ شوی او موږ هیله لرو چې د افغان میرمنو ظرفیت، د ښاري او کلیوالي میرمنو اتصال او تلپاتې سولې ته د رسیدو په لاره کې خپل وضاحت وښیو. موږ نه غواړو چې نړیواله ټولنه زموږ جګړه پرمخ یوسي. موږ ټول تاسو څخه غوښتنه کوو چې موږ د جګړې په ډګر کې یوازې مه پریږدئ. د نړیوالو بشري حقونو ترلاسه کولو لپاره زموږ په مبارزه کی له زموږ ملاتړ وکړئ.